Australian Government
Australian Taxation Office



# که تاسو سوداګر يئ،
# نو پدې ارزي چې پوه
# شئ چې د کوم شي
# لپاره مطالبه کولی شئ

**په کار پورې د اړوند لګښتونو د کسر لپاره مطالبه کول:**

- تاسو باید پیسې پخپله مصرف کړې وي او تاسو ته بېرته جبران شوې نه وي
- دا باید مستقیم ستاسو د عاید د لاسته راوړلو سره تړاو ولري
- تاسو باید د ثابتولو لپاره سند ولرئ.*

تاسو کولی شئ چې یوازې د کار پورې اړوند د لګښت د یوې برخې مطالبه وکړئ. تاسو نشئ کولی چې د لګښت د هرې برخې د کسر لپاره مطالبه وکړئ کوم چې مستقیم ستاسو د عاید د لاسته راوړلو سره تړاو ونلري.

* تاسو کولی شئ چې د ATO app د myDeductions وسیله وکاروئ چې د ټول کال په اوږدو کې ستاسو د لګښتونو او رسیدونو سوابق ساتي.

## د موټر لګښتونه

**تاسو نشئ کولی** چې د کور او کار تر منځ د عادي سفرونو د لګښت لپاره مطالبه وکړئ، حتی که تاسو د خپل عادي کاري ځای څخه لرې ژوند کوئ یا د عادي کاري ساعتونو څخه بهر کار کوئ - د بېلګې په توګه د اونۍ په پای کې کار.

**تاسو کولی شئ** چې د خپل موټر د کارولو د لګښت مطالبه هغه وخت وکړئ چې ستاسو مزل:

- په مستقیمه توګه په هماغه ورځ د جلا جلا دندو تر منځ – د بېلګې په توګه، د برېښنایي په توګه ستاسو د لومړۍ دندې څخه دTAFE ښوونکي په توګه ستاسو دویمې دندې ته سفر کول
- په یوه ورځ د ورته کارګمارونکي لپاره یوه کارځای ته یا له هغه څخه.

په محدودو شرایطو کې، **تاسو کولی شئ** چې د کور او کار تر منځ د سفرونو د لګښت مطالبه وکړئ، چېرته چې:

- تاسو د کار ځایونه بدل کړئ (یعنې، تاسو د کار کوم ټاکلی ځای نلرئ او تاسو په دوامداره توګه د خپلې کاري ورځې په اوږدو کې له یو کاري مرکز څخه بل ته سفر کوئ)
- تاسو د کار لپاره لوی وسایل یا تجهیزات لېږئ او لاندې ټول پلي کیږي

– وسایل یا تجهیزات ستاسو د دندې د ترسره کولو لپاره اړین وي او له ځان سره یې یوازې د خپلې خوښې لپاره نه ګرځوئ
– وسیلې یا تجهیزات لوی دي، پدې معنی چې د اندازې او وزن له امله دوی د لیږد لپاره ګران دي او یوازې د موټرو په کارولو سره په اسانۍ سره لیږدول کیدی شي
– د کار ځای کې د توکو لپاره خوندي ذخیره شتون نلري.

که تاسو د موټر د لګښتونو مطالبه کوئ، تاسو کولی شئ چې د خپل کسر د محاسبه کولو لپاره د لاګ بوک (logbook) طریقه یا د سېنټ پر کیلومتر طریقه وکاروئ.

که تاسو د لاګ بوک (logbook) طریقه کاروئ، تاسو باید یو اعتبار لرونکی لاګ بوک (logbook) ولرئ چې ستاسو د کار اړوند فیصدی کار وکړي او ورسره ستاسو د موټر د لګښتونو لیکلي شواهد هم وي.

که د سېنټ پر کیلومتر طریقه کاروئ، تاسو باید تاسو باید وښودلی شئ چې د کار اړوند کیلومترونه څنګه حسابوئ او دا چې دا کیلو مترونه د کار اړوند دي که نه.

که تاسو له دې طریقو څخه د یوې په کارولو سره د خپل کار پورې اړوند د موټر د لګښتونو مطالبه وکړئ، تاسو نشئ کولی چې د ورته موټر لپاره د مالیې د بېرته ګرځولو د کسر غوښتنه وکړئ. د بېلګې په توګه، پټرول، خدمتونه او د بیمې لګښتونه.

که ستاسو موټر د یو ټن یا ډېرو بار وړلو ظرفیت ولري، لکه یو یوټ یا وېن، تاسو نشئ کولی چې ستاسو د مطالبې د محاسبه کولو لپاره د سېنټ پر کیلومتر طریقه یا د لاګ بوک (logbook) طریقه وکاروئ. تاسو کولی شئ د حقیقي لګښتونو ادعا وکړئ چې تاسو یې د کار پورې اړوند د موټر کارولو لپاره اخلئ.

## د سفر لګښتونه

- **تاسو کولی شئ** چې د سفر د لګښتونو غوښتنه وکړئ که د شپې ناوخته له کوره د دندې اړوندو کارونو کولو په موخه سفر وکړئ. د سفر په لګښتونه کې کېدای شي چې خواړه، استوګنځی، کرایې او د کاري سفر په وخت کې اړوند لګښتونه شامل وي.
- **تاسو نشئ کولی** چې د کسر مطالبه وکړئ که چېرې د سفر پیسې ورکړل شوي وي، یا تاسو د خپل کار ګمارونکي یا بل کس لخوا تادیه شوي یاست.

## د جامو او کالیو مینځلو لګښتونه (د بوټانو په شمول)

د یو څو استثناوو څخه پرته، جامې د کار پورې اړوند لګښت په توګه نشي کسر کېدی.

- **تاسو نشئ کولی** چې د هغه عادي جامو د اخیستلو، کرایه کولو، ګنډلو یا پاکولو د لګښت مطالبه وکړئ چې تاسو د کار لپاره اغوستې وي، حتی که ستاسو کارګمارونکي تاسو اړ باسي چې دا واغوندئ او تاسو یوازې د کار په وخت کې دا جامې واغوندئ. 'دودیزې جامې' هغه دي چې خلک یې هره ورځ اغوندي – د بېلګې په توګه د برمې پطلون، جینز یا د دبنتې جامې.
- **تاسو کولی شئ** چې د محافظتي جامو د پېرلو، کرایه کولو، بیا جوړولو یا پاکولو لپاره د لګښت غوښتنه وکړئ. محافظتي – جامې بېلابېلې بنې او د کارولو ځانګړنه لري چې تاسو په کار کې د ټپي کېدو له ګواښونو او ناروغۍ ساتي. د مثال په توګه، د فولادو پوښ شوي بوټان، د خوندیتوب شیشې یا د اور ضد جامې.
- **تاسو نشئ کولی** چې د کسر غوښتنه وکړئ که مو کارکوونکي لګښتونه درکوي یا تادیه کوي.

## د وسایلو او تجهیزاتو لګښتونه

- **تاسو کولی شئ** چې د هغو وسایلو او تجهیزاتو د لګښت لپاره مطالبه وکړئ کوم چې تاسو د کار لپاره کاروئ، په شمول د ترمیم او بیمې (انشورنس).

  په هغه صورت کې چې د وسیلې یا تجهیزاتو لګښت:
  - له $300 څخه ډېر وي - تاسو د څو کلونو په دوران کې د لګښت لپاره د کسر مطالبه کوئ (په ارزښت کې کمښت)
  - $300 یا لږ لګښت ولري (او د هغه سېټ برخه نه جوړوي چې له $300 ډالرو څخه ډېر لګښت لري) - تاسو کولی شئ چې د ټول لګښت لپاره د سمدستي کسر مطالبه وکړئ.
- **تاسو نشئ کولی** د هغه وسایلو او تجهیزاتو چې ستاسو د ګمارونکي یا بل کس لخوا چمتو شوي وي مطالبه وکړئ.

  که تاسو وسایل او تجهیزات د شخصي موخو لپاره هم کاروئ، تاسو یې یوازې د کار پورې اړونده برخه مطالبه کولی شئ.

## نور لګښتونه

- **تاسو کولی شئ** چې د کار پورې اړوند د نورو لګښتونو برخه چې ستاسو په کار پورې اړه لري مطالبه وکړئ، په شمول:
  - ستاسو د جواز، تنظیمي جواز، کارت یا تصدیق نوي کول ترڅو خپلو دندو ترسره کولو ته دوام ورکړئ
  - د لمر ځد ملهم، خولۍ او عینکې که ستاسو دندې له تاسو غواړي چې د اوږدې مودې لپاره بیرون کار وکړئ
  - د ټیلفون او انټرنیټ لګښتونه، د سندونو سره چې ستاسو د کار پورې اړوند استعمال ښیي
  - د اضافي وخت د خواړو لګښتونه چې تاسو یې اخلئ او خورئ کله چې تاسو د اضافي وخت کار کوئ، که ستاسو کارګمارونکي تاسو ته د صنعتي قانون لاندې د اضافي وخت خواړه تادیه کړي، د اضافي وخت لپاره انعام یا تړون او دا ستاسو د ارزونې وړ عاید کې شامل دی.
- **تاسو نشئ کولی** چې د شخصي لګښتونو لکه د موټر چلوونکي جواز، د سندرو ګډون، جریمه یا ماشومپالنه.

**دا یوازې یو عمومي لنډیز دی.**
د نورو معلوماتو لپاره ato.gov.au/tradie ته ورشئ یا د مالیې له جواز لرونکي کارپوه سره خبرې وکړئ.

NAT 75046PAS-03.2022 DE-39140